# اوسنی پښتو موسيقۍ ته يو نظر

طيب افغان، کندهار

په دې وروستيو کلونو کښې داسې پښتو سندرې مو تر غوږو رسي او د ټلويزنونو د پردو په مخ وينو چې د ځينو کېسټ جوړونکو او پلورونکو لخوا په دې ګومان يا فکر چې ګويا نوښت ئې کړے وي ، پښتو سندرو سره ئې د هندي فلمونو صحنې يوځائے کړې دي ، دا نامتجانسه خلط يا Mixing نۀ يوازې زمونږ له اصلي پښتني کلتوره سره جفا او په بل ډول د صحنو تمثيلول دي بلکې د پښتنو او د نورو ټولنو د وګړو هغه ښکاره بېلوونکي توپيرونه له منځه وړي چې دوي ئې يو له بله سره لري، چې په مستقبل کښې به د پښتني ټولنې او نورو ټولنو کلتوري پښنليك (تاريخ) له شکونو ډك وي او د توپيرونو سپيناوے به ئې نۀ کېږي.

د نمونې په ډول به د دې لاندې سندرو لنډ جاج واخلو :

د ښاغلي استاد خيال محمد دا سندره :

مونږ يُو د خېبر زلمي پښتو زمونږه شان دے
مونږه پښتانۀ يو په وطن موځان قربان دے



ئې د هندي فلمونو د داسې صحنو سره يوځائے کړې ده چې د پښتنولۍ او د خېبر د اوسېدونکو اصلي څېره اصلاً نۀ لري، يو څو هندي ډمې چې په ټنډو ئې سرۀ خالونه سرېښ دي (د هندوو ځانګړې نخښه) او په هندي جامو کښې په هندي ګډا اوړي را اوړي؛ د سندرې Background ته وراچول شوي دي.

کۀ مونږ داسې غلط سندونه له ځانه پرېږدو، فکر کوم چې يو دوه پېړۍ وروسته به ليدونکے په دې ونۀ

پوهیږي چې هندوانو دغسې پښتو سندره وئیلې ده او کۀ په دې وخت کښې د پښتنو اصلي کلتوري ښېره داسې وه لکه د سندرې په جریان کښې چې ئې وینې . په دې سین کې داسې بې پرتوګه ښځې او لنګ اغوستي نارینه ښکته پورته کیږي چې د پښتو سندرې سره به ئې اوربدل او لیدل د پښتنو لپاره د ډېر شرم خبره وي او دښمنان به ئې دا سند وړاندې کوي چې داستاسو د کلتوري تاریخ ښېلګه ده . هم دا ډول کۀ بیا هم د ښاغلي استاد خیال محمد دا سندره چې وائي:

مستې منګې بر وړے دے
زړۀ مې دلبر وړے دے
عالمه لار نیسئ....

څوك وګوري نو وبه وینې چې دې بازاري معامله ګرو او کلتور خرڅوونکو سوداګرو د دې په ځائے چې د ګودر او پښتنو د ربښتیني ژوند انځورونکې سینونه د سندري سره یوځائے کړي، د هندي اداکارانو په اوبو کښې ترپکي ئې له کوم فلم څخه راغلا کړي دي، ورسره ئې یو ځائے کړي دي او په خلقو ئې خرڅوي چې وه ئې وینې . د هارون باچا ټپې چې وائي: ((پخوا به کله کله غم و - اوس مې ....)) داسې د هندي فلمونو د سینونو سره یوځائے شوې ده چې په هغې کښې نارینوؤ د ښځو په څېر څڼې پرېښې دي او ښځې پکښې د موټر ډرائیوري کوي ، په داسې حال کښې چې اوس پښتني کلتور لا په مجموعي توګه دغه ځائے ته نۀ دے رسبدلے چې ښځې دې د موټر خاوندانې او ډرائیورانې وي . سل دوه سوه کاله وروستو به ایا دا پوښتنه پرته نۀ وي چې زمونږ د دغه مهال پلرونه، نیکونه د مدني تکامل دغې مرحلې ته رسبدلي وو کۀ څنګه داسې سندونه ئې راپرېښي دي ؟ ایا دا ښاغلي نوښتګران !؟ به تر قیامته ژوندي وي چې په خپلو ناوړو کړو بیا شاهدي ورکړي چې: ( نۀ دا سندرې او سینونه موږ جعل کړي وو .)




په دې اړه له هغو نه چې دا ډول یوځائے کول کوي، هیله کیږي چې خپل پښتني کلتور ته هاغه شان خدمت وکړي او که نۀ نو لږ تر لږه له خیانته دې لاس واخلي.

- زمونږ سندرغاړو له یوې مخ د ټیټ ذوق په سندرو وئیلو پیل کړے دے او دا یو تریخ واقعیت ګرځیدلے دے. کۀ دوي دا دلیل راوړي چې ( زمونږ د سندرو اوربدونکي او کېسټ اخستونکي دغه ډول سندرې او هنر خوښوي،

نو څکه مونږ د اورېدونکو له ذوق سره سم سندرې وايو)، نو دوي ته د يادونې وړ ده چې لوړ ذوق کوم ځانګړے اسماني کاڼے نۀ دے چې لاس تر زنې لاندې ورته کښېنو او رالوېدو ته ئې سترګې په لاره شو؛ بلکې هم دا تاسې ښاغلي هنرمندان او سندرغاړي يئ چې په خپلو سندرو او هنر مو د اولس روح ته غذا ورکوئ، څۀ کيږي چې هنر ته مو ښکلا ورکړئ، په دې سره به مو د لوړ ذوق څښتنان هم خپل کړې وي او عام ټيټ ذوق به مو هم د بې فکرۍ، بې مانا توب او بې هنرۍ له ژورې کندې څخه راپورته کړے وي. وګورئ چې:

« شين اسمان زرې زرې    د سرو زرو تنابونه
سپوږمۍ د بام په سر    په يار وايه سلامونه»

د پاړسو له:

«واى درد دندان دارم و دندان به دندان ميزنم
طاقت انبور ندارم    سربه سندان ميزنم»

سندرې څخه په بې مانا توب، بې هنرۍ او د اغېز په نۀ ښندلو کښې کمه نۀ ده.

- زمونږ د اوسنۍ موسيقۍ د بهير يو بل کمزورے ټکے دا دے چې زمونږ ځينې سندرغاړي د بل چا د وئيلو شوو سندرو د بيا وئيلو بې ځايه کوشش کوي.

زۀ نۀ پوهېږم چې په دې خوارانو ولې دا ستره دنيا دومره لنډه تنګه شوې ده چې د يو بل ايجاد، نوښت او خوځښت زحمت ځان ته نۀ ورکوي او د بل د خُلې په ژوولې شوړې بيا شخوند وهي. د دې پهر ځائے چې په خپله د يو هنري شخصيت خاوند شي او ځانته هنري لاره ولري، د بل سندرغاړي په غږ به منظمه او ښائستوکې سندره راواخلي وبه ئې وائي او هغه هم کاشکې چې د لومړي سندرغاړي څخه ئې ښه وئيلے؛ د دوي په کړنو د اورېدونکي زړۀ د موسيقۍ او په تېره بيا د هغې سندرې څخه توريږي.



بېلګې ئې په زرګونو شته، ټول اورېدونکي پرې پوهېږي، يوازې د يوې بېلګې په راوړو اکتفا کوو. د ماسټر علي حېدر په نامه سندرغاړي د ښاغلي ناشناس دا سندره بيا وئيلې ده:

زۀ د جانان ديدن ته ځمه، توري نرۍ وريځې
خدايه ته ئې لنډه کړې دا د زمکې تنابونه

دغه رنګ د خېبر ټي وي اکثر سندرغاړي هم دا لوبه کوي. د بختيار ختک، زيک اپريدي، همايون خان او نورو ټولو وئيلې شوې زړې سندرې د دې خبرې ثبوت دے.

هم دا رنګه د افغاني او پاکستاني دولتونو د اطلاعاتو او کلتور وزارتونو او نورو واکمنو ادارو او هم دا رنګه په خپله د ژوندو پښتني احساس لرونکو سندرغاړو دنده بولو چې د يوه ژوندي او مهذبه اولس کلتوري مسئلې تر خپلې څارنې لاندې ونيسي او پرې نۀ ږدي چې هر څوک د هر څۀ کولو اختيار ځانته ورکړي.